لنډه کيسه

# نوی نمبر

لیک : عمران اختر

هغه موبائيل په لاس کې نيولی و په شين چمن کې ناست و يوه ښکلې مسته سندره يې په سکرين باندې پريښې وه چې د هوا په څپو زما د غوږونو سره داسې زمزمه کېده:

مستۍ کې رانه مات شو د ليلا
د لاس بنګړي
دا دې نور پر ما راوړي

هغه به ميشه مستې او شوخې سندرې اوريدې. د کوچنيتوبه ډېر شوخ او ورانکاری و. له مدې شوخۍ له وجې نه به ترې د ښوونځي درسونه پاتې وو. سهار وختي به د کور نه د ښوونځي په بهانه راوته. مګر ټوله ورځ به يې انجونو ته د ښوونځي لار نيولې وه. په داسې حال کې نږدې ورغلم چې د سګرټ نه يې پرله پسې کشونه ويستل. بې له دې چې روغبړ ورسره وکړم سم دواره يې وويل: لايقه نن رابانديې ډېره عجيبه ټوکه وشوه. پرون راته اکرم د يوې ښکلې او ښايسته انجلۍ د موبايل نمبر راکړو. د هغې انجلۍ چې هر سهار زمونږ په کوڅه يې د ښوونځي لار ده زه ورته هر سهار هلته ناست اوسم. ډېره زياته ښکلې ده. ښايسته سترګې، سرې شونډې، سپين مخ، تور زلفان بس څه صفت به يې درته کوم سمه د جنت خوره ده. په خدايقسم چې له ما نه يې زړګی وړی دی. سم يې په ځان پسې ليونی کړی يم. د هغې د ښکلې ځوانۍ سره څومره ښايسته نوم دی ښاپېرۍ. کله مې چې ورته تيلفون وکړو د هغې د طرف نه اواز راغی بلی څوک يې؟ د بلی سره مې ورته وويل: ښاپېرۍ ! ته ولې نه پوهيږې چې زه له تا سره څومره مينه لرم. په خدای چې يو ساعت له تا نه بغير نه شم تېرولی او کله چې تا وينم داسې خوشحاله شم لکه ټول ارمانونه مې پوره شوي وي او چې په کومه ورځ تا ونه وينم هغه ورځ راباندې لکه د قيامت غوندې تيريږي. ته ولې له ما سره خبرې نه کوې په تا څه شوي دي. ما ستا لپاره شپه او ورځ يوه کړې او هر سهار ستا ديدن لپاره ..... په دې خبرې سره اواز راغی. احمقه ته خپله خور مور نه لرې چې له ما سره داسې خبرې کوې؟ بې عقله بيا په دې نمبر تيلفون ونه کړې. بې ادبه په دې کنځلو سره يې موبايل بند کړو. د هغې په دې خبرو راته ځان ډېر بد ښکاره شو. ډېر شرم راته راغی. شکر مې وويستو چې موبايل و. که چېرته مخامخ يې راته د چا په مخکې داسې خبرې کړې وای نو هغه وخت به بيخي شرميدلی وای. د ځان سره مې وويل راشه يو ځل بيا ورته تيلفون وکړه. که دا ځل يې هم بد رد وويل نو بښنه ترې

وغواړه. کله مې چې ورته تيلفون وکړو غږيې راغی بلی څوک يې؟ جواب مې ورکړو چې همغه يم. ژر يې په نرمۍ سره خبرې شروع کړې. ويې ويل: يوه دقيقه وروسته راته زنګ ووهه. اوس لږه مصروفه يم بيا به سره ډېرې خبرې وکړو. له ځان سره مې وويل لکه چې يارانه جوړه شوه. د دې سره مې بيا ورته تيلفون وکړو. د بلې سره د هغې خوا نه د يو نارينه اواز راغی او ژر يې وويل: هلکه ته څوک يې چې داسې په غذابول کوې. دا خو د کور نمبر دی. وايه څه کار لرې چې هر وخت زنګونه وهې. بې ناموسه خپله خور مور نه لرې چې د پرد تور سرو سره داسې خبرې کوې. ژر مې موبايل بند کړو. غوښتل يې ډېرې خبرې او کنځلې وکړي خو ما پرې موبايل قطعه کړو. ما شمشاد ته وويل: څو واري مې درته ويلي چې د دې کار نه تېر شه خپلو درسونو ته امادګي ونيسه. د دې کارونو نه هيڅ هم نه جوړيږي. هسې خپل قيمتي وخت مه ضايع کوه. د آينده غم وکړه. ته ځان سره سوچ وکړه چې زه ښه کوم که بد؟ مور او پلار تا ښوونځي ته راوليږي

او ته ټوله ورځ پردو انجونو ته يو خوا بل خوا په لار کې ودريږې نو بيا به څه احساسوې؟ ما ورته دا خبرې کولې چې له کومه طرفه اکرم راغی. د سلام اچولو سره يې وويل: ياره شمشاده دا ځل مې درته د يوې داسې انجلۍ نمبر پيدا کړی چې د ښاپېرۍ نه يو په دوه ښايسته ده او د هغې انجلۍ نمبر دی چې د ښاپېرۍ سره يو ځای ښوونځي ته ځي. د هغې وړوکي ورور ته مې وويل: په کاغذ ليکلی يې راته راوړو. تا ته يې درکوم مګر په دې شرط چې زما کار به همدا نن سرته رسوې. شمشاد ورته وويل: هر څه چې غواړې کوم يې خو ژر کوه دا نوی نمبر راکړه چې صبر مې نور نه کيږي. اکرم شمشاد ته نمبر ورکړو. هغه څه شيبه په لاس کې نيولی و او خپلې سترګې يې په کې ښخې کړې وې. د خپلې خور د نمبر په ليدو سر يې وويل: دا دې څه وکړل تا خو به زه اوس ژوندی پرښږدم.

## د ملالې وينا په اړه

**شاهين بونيری**

موږه د غرونو خلک
د خاورو کور لرو
موږه په مينه مين
زړونو کې اور لرو
موږه ګلونه کرو
موږه سپرلي پېژنو
موږه غمونه وخوري
خو خوشالي پېژنو
موږه مشران لرو
په سر اسمان لرو
داسې بې څوک نه يو
چې باچا خان لرو
د ايشيا په زړه کې
د دې دنيا په زړه کې
مور باچايي کړې ده
موږه په خپلو وينو
د ژوند ياري کړې ده
تاسو دنيا ته ويل
چې ترهګر يو موږه
تاسو په چغو ويل
چې ځناور يو موږه
خو....
زموږ يوې سندرې
تاسو حيران پريښودئ
زموږ د امن چغې
په زړه پرېشان پرېښودئ
زموږ يوې ملالې
ستاسو نه لار ورکه کړه